وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

۸ صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

په ميدان ښارکي دګوډاګي رژيم پلويان دتسليمدو په حال کي دي

وردګ – ميدان دتلي ۱۱ مه :
دوردګو اوميدان ولايت تومياليو غازيانو دنومړي ولايت مرکز اوشاوخواپوستي ترخپلو بريدونولاندي نيولي اوددښمن قواوي ئي تسليمېدوته اړکړي دي په هغه ريوټ کي چي دنومړي ولايت څخه ترلاسه شوي ويل کيږي : مجاهدينودروان کال دتلي دمياشتي له ۱۱ مي نيټي راهيسي دميدانښار مرکزاوشاوخواپوستي ترخپلو بريدونو لاندي نيولي اودکمونست رژيم له پلويانو څخه ئي په لس ګونوملشيان اوعسکر تسليم کړي دي .
خبرځاي ليکي چي دمجاهدينو پريکنده عمليات په دوام داره توګه دوام لري اوديوي ورځي په اوږدوکي له لسو څخه تر شلوکسو کمونستان سره لدي چي ګن شميروژل کيږي مجاهدينوته تسليمي ورکوي .
خبرليکي چي مجاهدين يوازي هماغګي قوماندي ته ضرورت لري اويه نږدي ورځوکي فتحه دمجاهدينو په برخه ده . انشاء الله

الهي لارښووني

لوي خداي(ج) فرمايي:
اي مؤمنانو! پرتاسي څه شويدي چي کله تاسي ته دالله په لارکي د وتلوويل شول نوتاسي په ځمکه درانه کيناستلي ،آيا تاسي داخوت په مقابل کي ددنياژوند غوره کړي ؟
که داسي ده نوتاسي ته دي معلومه وي چي ددنيادالتول وسايل به په اخرت کي ډيرلږ راووځي
التوبه ۳۸ آيت

شماره مسلسل (۳۹۲) سال چهاردهم ،شماره (۸۸)پنجشنبه (۲)عقرب ۱۳۷۰ هـ .ش- (۱٦)ربيع الثاني ۱٤۱۲ هـ.ق- (۲٤)اكتوبر ۱۹۹۱م

دضياءالحق په شهادت کي ددوامريکايي افسرانو قرباني ضروري وه

ورجنيا :
که په پاکستان کي دامريکا پخواني سفير " ارنلدرافيل " او " وګرمن واسم " له لاري نه واي ليږي کړاي شوي نوبه امريکا کي به بله دواترګيټ لانجه رامينځته شوي وه اوپويل جمهوررئيس به دخيانت په تورله کاره ګوښه کړاي شوي واي چي ددي کارمنفي اثرات به په ختيزه اروپا باندي ډيرزيات و، دغه ټکي يوه لوړرتبه امريکايي افسرچي دنوم له اخيستلو څخه يي ډډه کړي افشاکړي دي، دغه افسرويلي چي دجنرال ضياء الحق دليري کولو لپاره ددواړو امريکائيانو قرباني کول ضروري وو ځکه دغه دواړه افسران دايران کونترا په مسئله کي ډېرو مهمو شاهدانو کاروړکاوه دهغوي سره چي څومره معلومات وته يوازي داچي دواترګيټ ستونزي دتکرارباعث کيده چي جمهوررئيس په شمول ډيرو امريکايي افسرانو لپاره بې زياتي ستونزي رامينځته کولي اوله کاره ګوښه کيدل، په همدي وجه ضروري وه چي دځوتنوامريکايانو قرباني شي، هغه دسي . اي، اي دمشريه هکله وويل چي هيڅ معصوم سړي دسي، آي، اي مشري ته نه شي رسيداي . بايد ووابوجي بش هم دسي، آي، اي مشر و .

امضاي پيمان دفاعي ميان ايران ،پاكستان وچين

درمطبوعات پاکستان وايران اخيراً اشاعه يافته است که سه کشور چين ،پاکستان وايران درصدد امضاي پيمان دفاعي اند اين شايعات هنگامي قوت گرفته است که رهبر چين تا چند روز ديگر از پاکستان وايران باز ديد بعمل مي آورد واحتمالاً موضوع امضاي پيمان دفاعي يکي ازاهداف سفراو به اين دوکشورباشد روزنامه ابرارچاپ ايران ضمن تبصره به سفررهبر چين به پاکستان وايران نگاشته است که اگرحکومت مجاهدين درافغانستان بقدرت برسد ،به پيمان سه کشور نامبرده قوت خواهد بخشيد واگردرافغانستان حکومت غير مجاهدين روي صحنه بيايد ،پيمان مذکور ازاستحکام برخوردارنخواهد بود.

پنج تن از افراد رژيم كابل درولايت بغلان كشته و تعدادي زخمي شدند

بغلان : ارتباط خارجه نظامي
به اساس گزارش واصله ازولايت بغلان مجاهدين آن منطقه طي عمليات موفقانه شان به تاريخ ۱۸ / ۷ / ۱۳۷۰ بالاي شهرنو وکهنه بغلان پنج تن از افراد سرشناس رژيم کابل را به قتل رساندند.
گزارش علاوه مي کند که درين عمليات يك نفر سرگروپ جراحت خفيفي برداشت هم چنان دراثرانداخت سلاح ثقيله دشمن يك تن ازبرادران مجاهد به شهادت رسيد . روحش شاد يادش گرامي باد !

بنام خدائيکه بر اندازه مهربان نعمايت ملهم آمد

سر مقاله

تسريع فعاليت هاي ديپلماتيك پيرامون حل قضيه افغانستان

حل سياسي معضله افغانستان تلاشي است که روسها براي روپوش شکست مفتضحانه شان در افغانستان رويدست گرفته اند و امريکائي ها بخاطر بهره برداري ازشکست روسها وتأمين منافع خويش درنظام آينده کشورمايدان عميقاً دلچسپي گرفته اند حل سياسي درحاشيه فعاليت هاي ديپلوماتيك اغيارعليه جهاد اسلامي پديده تازه اي نيست ، بلکه اين اصطلاح ازهمان سالهاي اول آغازجهاد مسلحانه تاامروز درمحافل ضدجهادي زمزمه مي شود، مگرتسبت غرورو زورگوئي زمامداران سابقه ماسکو، اين پديده چند سال قبل ازقوه به فعل نيامد. روي صحنه آمدن گرباچوف واتخاذ پاليسي هاي فضاي باز وبازسازي نشانه هاي از ايجاد تغيردرخط ومشي سياسي ماسکو درقبال سياست هاي داخلي وخارجي آنکشور بود. به تاسي ازهمين تغيروتحولات ، روسها قواي خويش را ازافغانستان عقب کشيدندوباسرازيرکردن کومکهاي بيدريغ نظامي واقتصادي منتظر ماندند تا رژيم کابل بطور مستقلانه ازکيان خودبدفاع بپردازد، زيرا موجوديت روسها درافغانستان موجب اعتراض واذيت روحي براي اکثريت مردم درداخل وخارج افغانستان عليه رژيم کابل گرديده بود .
مواضع اکثريت گروههاي جهادي درقبال حل سياسي ازاول وهله تا امروز ، آگنده باشك وترديد بوده وتا هنوز هم به نتايج آينده آن اطمينان ندارند واغلباً تلاش هاي حل سياسي را توطئه دشمنان براي قاپيدن دستاورد هاي جهاد تلقي مي نمايند . مگرعده اي ازگروهکهاي انگشت شمار نسبت نداشتن پايه جهادي ومايه مردمي ، نقش وسهم شان را درصورت پيروزي نظامي جهاد خيلي ضعيف وسبك مي پندارند ، لذا باطرح دشمنان همنواشده وتمام هم وغم شان رادريافت سهم دلخواه ومساوي در تشکيلات

ص(٦)

په لوګرکي ددښمن يونظامي کاروان شاتګ ته مجبورشو

لوګر – سکرتريت :
په هغه ريوټونوکي چي نوي له داخل نه مخابره شوي ، ويل شوي چي دروان کال دتلي مياشتي په ديرشمه نيټه دبيدراوخيبرمحاذونو زړه وړو اوسرتيرومجاهدينو دلوګر – ګرديز په لويه لاره باندي دملحد رژيم پرهغه پوځي کاروان باندي چي غوښتل ئي دګرديز محاصره شوي ښارته وسلي اومهمات ورسوي بريالي عمليات ترسره کړل .
ددغو عملياتويه ترڅ کي مجاهدينو ددښمن لس عرادي پوځي ګاډي ددرندووسلو په دزوسره داورلمبه کړه چي ددرندووسلو اومهماتوڅخه باروو اوددښمن کاروانيته مجبورشو چي په شاوګرځي .
ريوټ زياتوي چي سرتيرومجاهدينو په نوموروعملياتو کي ددښمن دوه زغروال ټانکونه اودري پوځي ګاډي هم ويجار کړي اوشپږميله کلاشنکوف ، يومبل آرپي جي ۷ راکټ ، يوه دآر ۱.۵ دوله مخابرئي دغنيمت په توګه ونيول .

نجيب ازمقامش استعفى خواهدكرد

يك گزارش ملل متحد درمورد افغانستان متذکرمي شودکه اگراستعفاي نجيب رئيس رژيم کابل راه رابراي يك معاهده صلح درافغانستان هموارسازدکه به انتخابات منجرگردد وي آماده خواهدبود استعفابدهد .
کوئيارسرمنشي ملل متحد گفت : به اواطمينان داده شده که بعضي شخصيت هاي متنازع فيه برحفظ مقام هاي خود اصرارنخواهندکرد مشروط براينکه قبل ازآن بعضي مسايل عمده سياسي حل گردد .
سرمنشي ملل متحد درگزارش خودبه مجمع عمومي ملل متحد ازاين به اصطلاح شخصيت هاي متنازع فيه نام نگرفت ولي مامورين ملل متحدوسايرديپلومات هاميگويند اين بيانيه او واضحا به نجيب اشاره مي کرداکثررهبران مجاهدين اصرارداشته اندکه نجيب کناربرود ونقشي درحکومت اينده افغانستان نداشته باشد .
سرمنشي ملل متحد درگزارش خودتاکيد نمودکه افغانها بايد مسايل شخصي راکنارگذاشته وتوجه شانرا به سوي سازمان دادن مذاکرات صلح بانمايندگي وسيع معطوف سازند .

يك هيئت مجاهدين تحت رياست استاد رباني عازم مسكوخواهد شد

يك هيئت مجاهدين افغانستان هفته آينده براي مذاکره بمنظور خاتمه دادن بجنگ سيزده ساله افغانستان عازم مسکومي شود اکرم ذکي سکرتر جنرال وزارت خارجه پاکستان ميگويد : رياست اين هيئت را استاد برهان الدين رباني رهبرجمعيت اسلامي افغانستان بعهده خواهد داشت .
استاد رباني ازپشتيباني جناح هاي تند رو مقاومت افغانستان که ازرهبران اعتدال پسند مخصوصا صبغت الله مجددي انتقاد ميکردند برخوردار است . مجددي رياست هيئتي راماه گذشته بعهده داشت که به ملل متحد رفت

نجم الدين ستوري امرانسجام درگفتگوباخبرنگار شهادت

اميدوارم تااول ماه قوس عمليه انتخابات براي تعيين اعضاي شوري مركزي حزب اسلامي تكميل گردد

ص(۷)

درعمليات همآهنگ مجاهدين درپروان يكديپومنفجرو ۳۰ عراده تانك حريق گرديد

پروان – رياست نظامي
به اساس گزارش هاي واصله از ولايت پروان مجاهدين جبهات مختلف آن ولايت طي عمليات هاي هم آهنگ شان بالاي مراکز دشمن خسارات وتلفات فراواني را به بارآورده اند که اينك ذيلا به خدمت تان تقديم مي گردد.
۱- به تاريخ ۲٤ /۷/ ۱۳۷۰ مجاهدين طي عمليات پيروز مندانه بالاي گارنيزيون و قطار اکمالاتي رژيم درمنطقه گهواره لنگ وهفت تنور واقع درسالنگ جنوبي چهار دستگاه BM41 وBM14 راتخريب و ۲۵ عراده موترحامل مهمات را به آتش کشانيدند تعداد از افراد رژيم نيز کشته وزخمي شدند.
۲- به تاريخ ۲۰/۷/ ۱۳۷۰ يك عراده چيپ رژيم کابل دراثر اصابت به ماين قبلا تعبيه شده مجاهدين در سنجد دره پارچه پارچه شده باسرنشينان آن ازبين رفت .
۳- به تاريخ ۱۳۷۰/۷/۱٤ مجاهدين ولسوالي تګاب طي عمليات موفقانه شان بالاي پوسته هاي رژيم کابل مستقر درسروبي ولايت کابل دو دستگاه BM13 و٥ عراده تانك زرهي دشمن راتخريب نمودند . هم چنان يك ديپوي مهمات دشمن بااصابت مرمي مجاهدين حريق وبه آتش کشانيده شد.

په اسرائيلوكي داتومي وسلي انبارونه دي

په امريکاکي يوه خپاره شوي کتاب داخبره افشاکړي چي دعربو اواسرائيلو ترمنځ ۱۹۷۳کال د جنګ په دوران کي اسرائيلو امريکا ته اخطار ورکړي وچي که چيري ضروري اوعصري وسلي ورنه ورکړي نواتومي بم به استعمال کړي . دکتاب ليکوال مورهيرش په خپل کتاب کي وايي چي اسرائيل له مصر اوسوريي

ص(۷)

دمنځني ختيځ دسولي په كنفرانس كي به حيدرشفيع دفلسطينيانودهيئات مشروي

قاهره – دتلي ۳۰ نيټه :
دفلسطين دآزادي دغورځنګ مشرياسرعرفات دمنځني ختيځ دسولي په کنفرانس کي دفلسطينيانو دنمايندګانو دهيئت په ټاکنه کي دخپل رول په هکله خبري کړي دي . داکنفرانس درواني مياشتي په پاي کي په مادريدکي کيدونکي دي اوعرفات وويل چي دمذاکرومشري به دداکترحيدرعبدالشفيع په غاړه وي .
نوموړي داسرائيلو تراشغال لاندي دغزي په ترانګه کي دسري مياشتي رئيس دي ، ولي عرفات وويل چي دده يوبل مخور فلسطيني فيصل حسيني ټاکلي چي ددي هيئت عمومي واك به په لاس کي لري .
عرفات داخبره په قاهره کي دجمهوررئيس حسني مبارك سره دخبروته وروسته وکړه ددوي دخبروهدف دسولي دکانفرانس له پاره دغربودګډي استراتيژي انځامول وو .
ديويل خبرله مخي عرفات اوس دپاريس په سفرروان دي اوهلته به دفرانسي له جمهوررئيس متران سره دمنځني ختيځ دسولي دکنفرانس په هکله خبري وکړي .

دبلخ ولايت دجهادي شوري پريكړه

دروان کال دوږي دمياشتي په شپږويشتمه نيټه دحزب اسلامي افغانستان دبلخ ولايت دمجاهدينو شورايوه غونډه جوړه کړي وه په دغه غونډه کي يوشميرمجاهدينو ، سپين ږيرو او مخوروخلکوګډون کړي و . دغه غونډه دقرآن عظيم الشان دځوآياتونويه لوستلو پيل اووروسته ددغي شوري له خوادملل متحد پنځه فقره ايزه پريکړه چي دافغانستان دمسئلي دحل لپاره ئي کړي په کلکه وغندله او هغه ئي دلويديځ اودختيځ يوه توطيه وبلله اوخپله کرکه ئي ښکاره کړه .
دغه شوري په شپږو مادوکي يوپريکړه ليك صادرکړ چي په لاندي ډول دي :
۱ – موږ دحزب اسلامي افغانستان دبلخ ولايت مجاهدين دټولو دټولو مسلمانانوسره خپل يووالي اعلانوو .
۲– موږ دبلخ ولايت مجاهدين دختيځ اولويديځ وسلي ته اړتيانه لرو ځکه چي موږ دخداي (ج) په نصرت وړاندي ځواوداپان په وسله سمبال يو .
۳– موږدبلخ دولايت مجاهدين ترڅوپوري چي په افغانستان کي يوسچه اسلامي حکومت نه وي قائم شوي خپله وسله په ځمکه نه ږدو .
٤– موږ دافغانستان دقضيي حل دسپيني ملني اوډکرملين په مانۍ کي نه غواړو .
٥ – هرهغه حکومت چي دختيځ اولويديځ دسازش په نتيجه کي رامنځ‌ته شي موږ هغه ردوو اودهغه رژيم په وړاندي به مسلحانه جهادته ادامه ورکو .
٦– موږدافغانستان دقضيي دحل لپاره له نجيب سره ګډحکومت په کلکه غندواو ردوو يي .

ناروي شوروي ديپلوماتان له هيوادڅخه شړي

ناروي – دتلي ۳۰ نيټه :
ناروي په هغه هيوادکي اته کسه شوروي ديپلوماتان چي دجاسوسانوګمان ورباندي کوي له خپل ملك څخه باسي .
دناروي دبهرنيوچارووزارت په يوه ويناکي ويل شوي چي دغواتوکسانوڅخه پنځه ته ئي لاوختي شوروي ته تللي او دري نوريه ئي هم دناروي څخه ووځي .
دناروي دبهرنيو چارو وزارت دناروي ديوي ورځپاڼي هغه ريوټونه تائيدکړل چي وائي دغه ديپلوماتان دهغه شوروي ژورنالست اوکي ، جي ، بي دابجنټ دمعلوماتو په نتيجه کي دناروي څخه ايستل کيږي چي دجون په مياشت کي يي ناروي ته پناه وروړه .
په دغو ايستل شوودپيلوماتانوکي يوتن ليف کوشلياکوف دي چي دغي ورځپاڼي په ناروي کي دکي ، جي ، بي ، لوړرتبه مامورمعرفي کړي و .

دخالقيار سره شريك حكومت جوړول ليونتوب دي

جلال الدين " حقاني "

دتلي ۲ :
ديکتياولايت دمولوي صاحب خالص داسلامي حزب تومبالي قوماندان مولوي جلال الدين ،،حقاني،، دروان کال دتلي دمياشتي په ۲۰ مه نيټه وويل :
خالقيار دکابل دکمونست ګوندېواصلي غړي اودهرات دتومباليو غازيانو جلاددي . هغه وويل دابه کوم احمق ، مجاهداوليوني مسلمان وي چي دروس اوامريکا په اشاره دافغانستان دمسئلي دحل لپاره دکمونست خالقيارسره په ائتلافي او شريك حکومت کي برخه اخلي .
حقاني زياته کړي هغه څوك چي دکمونست "خالقيار" سره په ائتلافي حکومت کي برخه اخلي هغه به زموږ دډزو نښه وي .
حقاني دافغانستان دقضيي دسوچه حل په باب ويلي په اوسنيو شرايطوکي دابه کارده چي جهادي قوماندانان علما اوجهادي تنظيمونو مخورکسان دي سره راټول شي اواسلامي شورادي جوړه کړي اووروسته دي بيادا شوراله خپل منځ څخه انقلابي باجرائيه غړي وټاکي اوبيادي يوموقتي ، شرعي حکومت جوړکړي .
حقاني په ګرديز باندي وروستي پريکنده، ګوزارونه دګرديز دښمن فتحي درشل وبالله اوددښمنانو ټول تبليغات ئي چي ګوياپه ګرديز کي پاکستانيان په جنګ اخته دي ردکړل .

كسانيكه آرزو دارند از راه سازش با دشمنان اسلام بقدرت برسند ، بخطا رفته اند

سخن روز

دټولو مجاهدینو هدف اوارمان یودي

تنگيار

دروسانوترماتي اوتېښتي وروسته دنړیوال کفرټول تلاش پدي کي دي چي په یوډول نه یوډول دافغانستان مسئله له جهادي ډگرنه دسیاسي حل خواته راوکاږي اوپه دي توگه ځان ته دلاس وهني اوځاي موندلو شرایط برابرکړي . که څېري افغانستان دجهاد له لاري اودمجاهدینو په لاس آزادشي، ښکاره ده چي راتلونکي حکومت به یې ریښتني اسلامي حکومت وي . داسي چي دنړي دټولو مسلمانانو اوداستعمارپه ښکیل ګېروخلکو لپاره به دمجاهدي اومبارزي پوخ سنگراودقوماندي سترافعال مرکزوي اوله دي ځایه به په نړي کي داسلامي تحریکونو دتګ لاري، روزني اوآن تریاخون اوبریالیتوب پوري ملګرتیا اوملاتړوکړي .

داچي مجاهدین څه غواړي ؟ اودڅه لپاره یې دادومره کړاوونه ، قرباني، محرومیتونه اوناداودي په ځان اخیستي . هرچاته ښکاره اوروښانه ده . مجاهدین که په هرتنظیم ، ګروپ اوولي پوري اړه لري اویاپه هرولایت ، ولسوالي اوعلاقه داري کي قراولري، ټول یوهدف لري اودهمدغه یوه هدف لپاره راپاڅېدلي اوترهغوبه کراوکښېنتي ترڅوېي دغه سپېڅلي هدف لاس ته راوړي نه وي . چي هغه دهیواد بشپړه آزادي اوپه هغه کي دیوخپلواک ریښتني اسلامي حکومت جوړېدل دي .

داچي مجاهدین دڅه جهادي ضرورتونو له امله په مختلفو تنظیمونو کي ویشل شوي، څه ظاهري بېلتون دي . په واقعیت کي ټول مجاهدین که په هرتنظیم کي دي دیوه مقدس ارمان اوهدف لپاره جنګیږي دګډ دښمن په مقابل کي دیومحکم فولادي دېوال حیثیت لري . څکه داپه تجربه ثابته شوي ده چي کله داسلام دښمنانو دمجاهدینو له ظاهري بېلوالي نه دناروا ګټي پورته کولو اراده کړي ، نوهمدغه دېلابېلو تنظیمونو مجاهدین سره راغونډېږي ، شورايي کړي اوبیایي په یوه خوله اویوه زړه داسي دریځ نیولي چي ته به وایي داټول دیوي مورزامن دي .

دخوشحالي اوواڼخبره هم همداده چي په داسي حساسو حالاتوکي ، چېرته چي داسلام اواسلامي حکومت پرضدکوم حرکت محسوس شوي، نودغه مومن اومتعهدقوماندانان او مجاهدین دخپلوتنظیمونواومشرانو دسیاست اوتګ لاري پرخلاف ، دجهاد دسپېڅلو اهدافو په خواکي دریدلي اوپه زړه یې له سازش کوونکو اواسلام اووطن پلورونکونه کرکه اونفرت څرګندکړي لوېدیځ دامریکا په مشري خودروسانوله تېښتي وروسته ټول زوروهي

اچولي چي قوماندانان اومجاهدین دېېسو اوپانورو موادو په واسطه ترخپل تاثیرلاندي راولي او بیایي کرار، کرار دجهادله لیکي ګوښه اولري کړي . نوکه څېري ددوي دادسیسه بریالي شوي واي، نوبیا دوي په آساني کولاي شواي چي خپل یې هغه ، بې ضمیره اوبي ایمانه نوکران دمجاهد اوقوماندان په نامه دهغوي پرځاي وګماري اوبیا دکابل له مزدوررژیم سره دروغجن جوړي له لاري دخپلي خوښي اوګوډاګي حکومت منځ ته راولي . چي په هغه صورت کي به هم دافغانستان له اومومموادو ګټه اخیستي وه اوهم به یې په نړي کي داسلامي تحریکونو دامیدونو مړه کړي وه .

ولي دمهربان خداي (ج) په فضل اودوینو اومتعهد شهادت ، متعهدوقوماندانانو، مجاهدینو اومومنو خلکو دځېرکتیا اوپوهوالي له امله دلوېدیځ دغه توطیه دشنډېدو په حال کي ده ، اوس چي دجهادله لیکوپوره ناامېده شوي، نودځېنوتش په نامه مشرانو ، قومي مخوروااودلوېدیځ پر دسترخوان درالوي شپېو په اصطلاح دریګړو اوتوروحضرکسانوپه راغونډولو، منظم کولو او په کاراچولو لګیادي، څوك چي لکه همدغه لوېدیځوال، زمونږله مومن ، متعهداومجاهدملت نه ناامېده اوخوابدي دي .

داداستعمار قانون دي چي کله یې یوپلان ، یوه دسیسه اوتوطیه شنډېږي اوله ناکامي سره مخامخ کېږي ، نوفوراً بل پلان اوبله توطیه په لاره اچوي . دهرپلان اونقشي دعملي کولولپاره ، بېل، بېل لوبغاړي غوره کوي اوبیلي، بیلي څېري په کاراچوي، وېروخت داسي هم راځي چي کراره ، کراري شي اودهغوي یعني استکبار هیڅ حرکت او څوز نه محسوسېږي .

سړي فکرکوي چي ګني خسته شول اوشاید له خپلو شیطاني کارونو نه به ستړي اوپاڅیمانه شوي وي . ولي په حقیقت کي ترټولو خطرناك همدغه مرحله ده ؛ په کومه کي چي داستعماریااستکبارفعالیت نه محسوسېږي ، په کومه کي چي هغوي غلي اوبي حرکت ښکاري . په همدغه وخت کي دوي دبلي توطیي اوپلان دعملي کولو په نقشه اوموادوغوركوي اولاره ورته هواروي .

ولي زمونږ مومن ملت هم دهري ورځي په تېرېدوتریو تجربو خاوندان کېږي اودوخت په تېرېدوسره دخپل دوست اودښمن حقیقي څېري ورته برېښېږي ، که هغه دجهاد په لیکوکي دي اوآیا تري بهردي .

نن ، سباچي ټول مجاهدین په یوه زړه دسرتاسري عملیاتوپه طوفاني بهیرکي ورپوځاي شوي اوپه ګډه یې دخپل شرمېدلي دښمن درانسکوورولو اودخپلوناوړه اعمالوپه جزارسولو اراده کړي، دا حقیقت روښانوي چي مجاهدین ټول دیوه مقصد لپاره را اوچت شوي اودهمدغه مقدس مقصد ترتحقق پوري به خپل جهادته دوام ورکوي .

که مجاهدین دتنظیمونو دسیاست اوتګ لاري پېروان واي، نودځېنوپه اصطلاح تنظیمونو دپالیسي مطابق به یې په سرتاسري عملیاتو کي برخه نه واي اخیستي ، ځکه دهغوتنظیمونومشران دکابل دتوکرژیم په مقابل کي مسلحانه اقدام ناروا ګڼي اوالتوګانې صادروي چي نور جهادته ضرورت نشته اومسئله باید دامریکا اوروس دخوښي مطابق حل شي . ولي دغوتنظیمونو مجاهدین چي څنګه چي زمونږ دمومن اومجاهدملت

مخ (۷)

داسلامي امت په وړاندي دیهودو-هنودو ګډسازش

«رحماني»

داخبره بیخي څرګنده ده چي اسلام اواسلامي امت دټولو کفري ځواکونو دسترګو اغزي دي، هرځواك یې پخپل واردختمولو زیارباسي، هڅه کوي چي په پټه اوښکاره داسلام دخپراوي اواسلامي امت دشیرازه کولو په لارکي خنډونه واچوي، پرېنږدي چي دغه امت دمشکلاتونه سراوچت اوپه چټکي سره دپرمختګ لاره ووهي . لکه څنګه چي داسلام سترپیغمبرحضرت محمدمصطفی صلي الله علیه وسلم فرمایلي : " کفریوملت دي " واقعاً چي همداسي ده موږښوچي اوس ټول نړیوال ځواکونه په دي خبره سره یواومتحددي چي " اسلام ددوي لپاره خطردي او باید دختمولو لپاره یې ګډاقدامات وکړي " هغه دڅاخبره وایي دسپېوکوپه کورجنګه دي خومسافرته سره یودي" که څه هم ددوي پخپل منځ کي هرځومره جنجال او اختلاف وي، یوپه بل باندي ان چي نظامي تیري ته لاس پوري، ولي کله چي داسلام اواسلامي امت خبره رامینځ ته شي، بیا هرڅه هېر اودمسلمانانو په وړاندي ګډصف جوړکړي ، په یوه اویل نامه دمسلمانانوځمزوري کولو هڅه کوي، خوددي ټولو سره سره اسلامي امت دغفلت په خوب ویده دي اوپه یل پسي داستعمارچیانو دتوطیوښکارکېږي .

که اصل مسئلي ته ځیر دقیق نظروکړو اصلي سازش دیهودونه راپیل شوي اوهنود ورسره پوره همکاردي، یهودانواوهندوانو، دنړي ټول هیوادونه په سرکي یې روس ، امریکا اولوېدیځه اروپا داسي عیارکړي چي هرڅه یې ددوي په اشاره اوقوماندي ترسره کېږي . داخو لاپرېږده ان چي ددغواستعماري ځواکونو زیات مشران اویادمشرتابه هېئتونه یهودي الاصل اویا هنرځالنسل دي، یاپه بل عبارت داستعماري هیوادو اصلي پالیسي جوړونکي اداري دیهودانو اوهندوانو په لاس کي دي، همداوجه ده چي دهغوفلسطین په هکله چي نن دیهودانو اوهندوانوله خواپرمسلمانانو کېږي هیڅ غبرګون نه کېږي، ټول هغه هیوادونه چپ پاتي دي چي دبشردوستي دېري په سینه وهي، اوله اسلامي امت پرته که دبل چاپه خلاف څه عمل وشي نوچیغي یې آسمان ته ختي . په همدي اساس ویلاي شو چي که نن په فلسطین کي دیهودو اوپه کشمیرکي دهندو له خواپرمسلمانانو ظلم زیاتي روان دي نو، روس،امریکا اونورغربي هیوادونه په بوته یو دول ورسره شریک دي . اوداټول دهغو ګډوسازشونو کړي دي چي دکفري ځواکونو له خوا دمسلمانانو په خلاف طرح اودپروګرام مطابق یوپه بل پسي راخرګندېږي .

که دامریکا د"نوي نړیوال نظام" څخه تیرشو چي دمسلمانانو دمحکومیت په خاطرطرح اواسلامي امت یکي داستعماري نقشي هدف ګرځېدلي دیهودو اوهندو ورته اقدامات هم دپوښتني وړدي، داپوښتنه دهرچاپه ذهن کي پیداکېږي چي ولي دیهودانوله خوا په منځني ختیز اودهندوانو له ارخه په جنوبي آسیا کي ، موازي اقدامات کېږي ؟ که په ۱۹۴۸ میلادي کال په منځني ختیزکي دیهودوخنجردمسلمانانوپه زړه کي خښېږي نو په همدي وخت کي کشمیر هم دهندوانوپه ولکه ولاړ، له همدي وروسته دکشمیر اوفلسطین ستونزي راژوغونېږي ، که له یوي خوایهودان دمسلمانانو په لومړي قبله اومسجدالاقصي قبضه کوي له بل پلوه هندوان دبابري جومات په دروازوقلفونه اچوي اویتان پکي ږدي ، هلته هم دمسلمانانو دځورولو، هجرت ته مجبورولو، تبعیدولو اودمسلمانانو دعبادت ځایونو نیولو او وړانولو پروګرام پر مخ ځي ، اودلته هم همدالړي روانه ده ، هلته دحماس داسلامي تحریك انتفاضي دخپلو اوفلسطیني ولس دوژلو لپاره ټانکونه راوتلي، دلته دکشمیري مجاهدینواو کشمیري ولس دختمولو لپاره ، هلته هم هره ورځ دمسلمانانو دکورونو تلاشي او لوټل روان دي اودلته هم ، که دلته دهندي عسکرو له لاسه پاکلمني ښځي بې پردي کېږي ، هلته دیهودي نظامیانو له خوادغه ظلم روان دي .

دیهودوپندیخاني هم په مسلمانانودکي دي اودهندوانو زندانونه هم .ترټولونه مهمه داچي له یوي خوا په هندکي متعصبوهندوانو دبابري جومات دشهیدولو کاریبل کړي ، هڅه کوي چي پرځاي یې درام بومي درمسال جوړکړي ، په دي نامه چي ددوي رام نومي خداي په همدي ځاي زیږېدلي ، اوبیا ددي درمسال په ځاي دبابرپادشاه په امر یوجومات آبادشوي چي دبابري جومات په نامه یادېږي ، که څه هم دمحکمو له خواتروروستي عدالتي پرېکړي پوري په جومات باندي باید هندوان غرض ونه کړي، همداراز هندسیکولرحکومت دنوروي وهي، ولي په عمل کي اوس وینوچي داترابردېش دحکومت له خوا جومات قبضه شوي او دشهیدلو کاریې پیل کړیدي، څښتي دېوالونه یې شهیدکراي شویدي، داېو نه بلکي په هندکي په لسهاو اوسلهاوو کوچني جوماتونه په درمسالوبدل شوي، ولي دهیڅ نړیوال سازمان یا په اصطلاح دحقوق بشرپلوي هیوادله ارخه پري اعتراض نه دي شوي ، برخلاف غیرمستقیم هندوان لاتحریك شوي چي دغي عملیي ته دوام ورکړي .

له بل پلوه په نیول شوي فلسطین کي دذوالقرنین دجومات په نام باندي متعصبو یهودیانو د" تلمودیي " په نامه یهودي مدرسه جوړه کړي اوراپوریي دیوتسکوله خوا خپرشوي دي، همداراز په مسجدالاقصي کي یهوذانو دجومات په ځاي دخپل عبادځاي جوړولو کارروان ګرېدي ګن شمیر جوماتونه یې په شهادت رسولي دي .

لنډه داچي دیهودو هندودو ګډ پلانونه داسلام دورکاوي په خاطرجریان لري ، په دي کار کي یوله بل سره نظامي او جاسوسي مرستي هم کوي، دڅوني په دول دروان کال په پیل کي دکشمیر مجاهدینو له خوالس تنه اسرائیلي جاسوسان ونیول شول چي په کشمیر کي دهندي عسکرو دمرستي اوهغوته دپروګرام ورکولو لپاره راغلي وو، دیته ورته دیراسرائیلیان په هنداوکشمیرکي دمسلمانانو دختمولو پروګرامونه جوړوي، ان چي دپاکستان داتومي دستګاه دله منځه وړلو لپاره هم یوه مباشت مخکي داسرائیلو اوهندګډ پلان په وروستي مرحله کي خنثیٰ شو، پاکستاني الوتکي وتوانیدي چي دغه پلان شنډکړي، که څه هم له دي پروګرام نه پوره پرده نه ده پورته شوي ولي دومره ویل کېږي چي اسرائیلو اوهندپه ګډه دیوه پاکستاني پوځي په بدرګه پیلوټ سره دپاکستان داتومي دستګاه دبهارولو کاروروستي مرحلي ته رسیدلي وو خودپاکستاني استخباراتي شبکي له خواکشف اودپاکستان دهوايي قوي له خواشنډ شو .

په هرصورت دي ته ورته ډېري توطیي دمسلمانانو په خلاف روانې دي، مسلمانان داهرڅه په سترګوویني ولي ددي ټولو سره سره چوپ پاتي دي ، اوهیڅ عکس العمل نه ښيي که چېري همداوس داسلامي هیوادونو مشران اوواکمنان دبابري جومات دشهیدولو په هکله په هنداوددوالقرنین دجومات په باره کي په اسرائیلو فشاررانه وړي، نو ګوري به چي په دغوهیوادوکي په سلهاوو جوماتو وران اوپه یهودي اوهندوېي عبادت ځایو تبدیل شي .

اسلامي نړي، دهیوادونومشرانو اوپه ځانګړي توګه اسلامي غورځنګونو ته پکاردده چي خپل مشران اوواکمنان دیته مجبورکړي چي دهند اواسرائیلو په خلاف عکس العمل وښيي داقتصادي اوسیاسي اړیکو ډیري کولو اوبندېزونو له لاري هغه حکومتونه دي ته مجبورکړي چي اسلامي مقدسوځایونو ته په درنه سترګه وګوري دهغوي حفاظت وکړي که په دي هم نه کېږي نوباید دنظامي لاري فشارېري واچول شي ، جوماتونه دټولو مسلمانانو دي څومره چي دهندي مسلمانانو اوفلسطیني وروڼو زړونه پري خوږېږي، همدومره یې اسلامي امت ته درد رسېږي، مسلمانان باید په دي هکله عملي قدمونه پورته کړي ، پرېنږدي چي دیهودي اوهندوېي سازشونوښکارشي .

نامه سرگشاده به آقای مجددی

سیدعزیزالله مجاهد فعلاًساکن کمپ میاوالي

این نامه را مجاهدي به شما مي نویسد که بعلت برداشتن چندین زخم وجراحت مدتي رادربسترعلالت بسربرده واکنون بادست پایي به بهبودنسبي دروضع صحي ، درګوشه یي ازیك کمپ دوران هجرت ونقاهت رایکجا سپري میکند.

بنده راتوش وتوان به چرخش درآوردن قلم بروي کاغذ درحدي که بتوان مطالب را بشکل که متابعت از خیرالکلام : قل ودل " باشد نبود وناچار درین رابطه از برادري که دستي برقلم داشت یاري جستم ودراملاي این مقال رهنمایي هاي وي را بکاربستم.

جناب حضرت صاحب! من چندین سال قبل بعلت و جود یك چره هاوان در بدنم که بیرون آوردن آن با امکانات موجود در جبهه مقدورنبود براي نخستین بار به پشاور آمدم و با ارتباط یکي از آشنایان که بدفتر شما رفت و آمد داشت بدیدار شما نایل شدم در مدت تقریباً یك ساعت که در محضر شما حضور داشتم از زبان مبارك تان مطالبي بگوشم رسید مرا سخت دچار حیرت ساخت .

در طول مدت دیدار جزبدگوئي و لعن و نفرین نسبت به بنیادګرایان مسلمان سخن دیگري از زبان شما نشنیدم خطاب "اخواني ها چنین وچنان اند " از زبان شما ، سخنان مشابه ازربان رهبران رژیم کابل را درذهنم تداعي کرد. سخنان متملقین وچاپلوسان اطراف شما ابتدا برایم جالب وخنده دار بود وي رفته رفته ازربان آنان سخناني درمدح شماشنیدم که اګر خودتان نیز کمي انصاف مي داشتید باید مي پذیرفتید که یکسره ازان صفات عاري هستید . تملق شنیدن ها چنان بنظرم زننده آمد که مبالغه نخواهد بود اګربګویم موجب بروز حالت غثیان وتهوع درمن شد.

وقتي ازنزدشما بیرون آمدیم از برادر رهنما پرسیدم : آیا جناب حضرت صاحب خدا ناخواسته علالت مزاج داشتند ؟ سخنان ایشان بیشتر به ګفتارمریضي شبیه بود که از حرارت تب مي سوزد. ودوستم ګفت : جناب حضرت صاحب همیشه همینطوراند . من پرسیدم : پس توازاین مرد چه دیده یي که ... واوحرفم راقطع کرد وګفت : برادرجان توتازه به پشاور آمده یي هنوز باوضع آشنا نیستي .

زندګي درپشاور خرچ دارد وخرچ زندګي من ازهمین دربارتامین میشود . ارتباط من بااین دم ودستګاه، درهمین حد است وګرنه من هم میدانم که اینها مصدر هیچ خیري نیستند.

بعدها پي بردم که همین برادري که مرا نزد شماآورده بود درحالیکه بعد ازګودتاي تره کي دیګر افغانستان رابه چشم ندیده بود درتشکیلات شما (البته بروي کاغذ) قوماندان یك ولسوالي است ومراتبهز براي این بهره برداري نزد شما آورده بود که نشان دهد مجاهدین نیز حکومت شما را به پشاور آمده اند ؟

ببخشید که اولي وآخرین دیدار باشما برایم خیلي ناګوار بود ومرا ازشما یکسره نا امید ساخت من ازنظر شما وحرکات شما اثري ازیك رهبر راشناختم

نکردم واګرناراحت نمي شوید باید بګویم که شما درهمین نخستین دیدار چون فروشنده یي درنظرم جلوه کردید که تلاش دارد تا متاعي نازل وبازارزده خود را که خریداري ندارد بوسیله تبلیغ برضد متاع دیګران بفروشد وبرسرخلق الله کلاه بګذارد.

چرامن شما را به معیار یك رهبر برابر نیافتم ؟ بنظرمن رهبر باید همان خصوصیاتي راداشته باشد که یك قوماندان سنګرداره یعني برخورداري ازقدرت تحمل وبردباري ،حسن خلق و سلوك بهره بودن عقل وتند بیر براحساسات ... قوماندان که ازین خصوصیات عاري باشد بزودي مجاهدین ازاطرافش پراګنده میشوند . بانداشتن این خصوصیات میتوان از راه دیکتاتوري بریك جمع یاملت حکم راند امادرکشوري چون افغانستان که بادرنظرداشت شرایط موجوده شاید تاسالها امکان بوجود آمدن یك حکومت متمرکز مرکزي میسرنګردد ، دیکتاتوري هیچ شانسي براي بوجود آمدن وبرقرارماندن ندارد.

تنها من نیستم که درموردشماچنین قضاوتي دارم واصولاً حتمي نیست که براي شناخت شما حتماً باید با شما ملاقات حضوري داشت مصاحبه هاي شماآینه تمام نماازشخصیت شما ست که مي بینیم چګونه زودخشم مي ګیرید ،احساساتي میشوید ، ضدونقیض مي ګویند وهرګز به"این نمي اندیشیدکه آنچه که میګویند تحقیرمجاهدین وتضعیف جهاداست ودریاد تاریخ باقي مي ماند.

کارنامه سیاه حکومت مؤقت شما درطول تقریباً سه ونیم سال ګذشته کافیست تاماراازدرایت وتدبیرشمایکسره ناامید سازد.

این حکومت (حکومت مؤقت اسلامي مجاهدین) خوانده شد ولي این تشکیلات نه (حکومت) بود نه (مؤقت) نه (اسلامي) ونه متعلق به مجاهدین . اینتشکیل ،حکومت نبود زیرا نتوانست درمدت ازقبل تعین شده بداخل افغانستان انتقال کند و بشکل یك تشکیل سیاسي قلع دربشت مرز وبعدا ازجهاد باقي ماند.

مؤقت نبود زیرا برطبق موافقه قبلي، وقتي نتوانست درمدت شش ماه درجهت اهدافي که بخاطر آن بوجود آمده بود قدمي بردارد باید منحل میشد ولي شما فرمودید که دواسلام حکومت مؤقت مجبورندارد وانیکه سه ونیم سال است که تابوت این حکومت رابدوش مي کشید وازاحتمال بدورنیست که هنوز حکومت حسابا بنام (رفقا) (شرکا) به کابل هم سازش دارید.

اسلامي نبود ، زیرا درآن نه تنها کار به اهلش سپرده نشد بلکه حیف ومیل ها و

اختلاس ها وچپاولګري هاي اراکین این حکومت باهیچ حکومتي درهیچ جاي دنیا قابل مقایسه نیست!

وقتي شوراي مشورتي جناب شما رابحیث رئیس حکومت مؤقت مجاهدین برګزید ، مجاهدین ازاینکه رهبران شان درمقطع حساسي اززمان با ابتکارسیاسي خلاي سیاسي بزرګي راپرکردند ، شادمان شدند ولي این مسرت وشادماني بسیار کوتاه وزودګذربود حکومت شما فقط بصورت اسمي متعلق به مجاهدین بود . بزودي درپست هاي حساس این حکومت عناصري جاي ګرفتند که هرګز تعلق خاطري باجهاد و آرمان مجاهدین نداشتند . کار نامه این حکومت تا به امروز نشان میدهد که حاصل آن جز تضعیف جهاد وتحقیر مجاهدین درسطح بین المللي نبود زیرا عملکردهاي اینحکومت تحت رهبري شما موجب قوت ګرفتن این ذهنیت درسطح بین المللي شدکه مجاهدین قادر به ساختن یك تشکیلات سیاسي جانشین براي رژیم کابل نیستند.

شمادرحالیکه درظاهریکي ازرهبران مجاهدین بشمارمي آیئد ولي هرزمان که طرحي براي یك عملیات سراسري برضد مواضع رژیم کابل بمیان مي آید جانب نجیب ورژیم کابل را مي ګیرید مثلاً درهمین چند هفته اخیر چندین بارابن سخن ازربان شماشنیده شد که ګویا به قوماندانان خود دستور داده ابدتا درعملیات سراسري مجاهدین شرکت نکنند آیا معني این سخن اینست که درنظر شما دیګر جهاد درافغانستان به پایان رسیده است ؟

ازبیان شما نمیتوان نتیجه دیګري جز این ګرفت که شما دیګرجهاد برعلیه رژیم کابل راجایز نمي شمارید وباید بصراحت ګفت هیچکس که ظاهراً درصف مجاهدین نیز قرار دارد تاکنون جرئت چنین اهانت به خون دوملیون شهید ګلګون کفن این جهاد رانداشته است .

من آنقدرایدآل طلب نیستم که معتقد باشم درعصر ما هر رهبري باید بهترین ،کاملترین وبرګزیده ترین شخص جامعه خویش باشد البته اګردردنیاي ما چنین رواجي عام بود ومحسنات وسیئات معیار قبول بارد شخصیت ها دررهبري جوامع بشمارمي آمد بدون تردید امروز مادردنیاي بهترازدنیاي امروز زندګي میکردیم .امروز مادرجهاني حیات بسرمي بریم که قدرت هاي شیطاني براي تسلط برکشور هاي ضعیف درتلاش اند تا شخصیت هاي مردمي برمسند هاي دیګر بخصوص برمسلمانان تحمیل نمایند ؛ امروزه امریکا درصدد تطبیق نظم نوین جهاني است اما راضي نیست درهیچ کشور اسلامي درجهان قدرت به نفع ګرایش هاي

تغیرکند که آرمان خواه اند وبر ضد نظم جدید جهاني امریکا یعني استعمارنوین سر شورشګري و عصیان دارند . بنابراین عناصرضعیف وبي اراده دردنیاي اسلام براي امریکا توجه برانګیزاند ودرافغانستان جناب شما ازاین نظر شانس بیشتر براي رسیدن به قدرت دارید.

ازقراین چنین پیداست که وسوسه رسیدن بقدرت وتباني وسازش روس وامریکا شاید شمارادرراي یك حکومت ائتلافي باحزب وطن نجیب به کابل ببرد ولي اګرشما مرتکب چنین اشتباه جبران ناپذیرګردید باتوجه به نقش بسیار ضعیف نظامي شما وهمګامان تان حکومت شما براي بقاباید به نیرو هاي مسلح رژیم کابل وملیشه هاي ګلم جمع وکیان متکي باشد ودرآنصورت شما جز یك آلت دست دردست حزب وطن چیز دیګري نخواهید بود . وحتي اګر امریکا هم قواي خودرا تحت پوشش و چترسازمان ملل وارد افغانستان سازد حکومت شما براي بقا همانقدر شانس دارد که حکومت ببرك کارمل داشت .

مامطمئن هستیم که خداوند خونهاي پاك شهداي این جهاد مقدس را ضایع نخواهد ساخت وشاید تقدیر وي براین است تاملت مجاهد افغان قبل از رسیدن به پیروزي نهایي چهره هاي دشمنان جهاد خویش راکه تاکنون در نقاب پنهان بوده عیان وبي پرده ببینند . وچنین عناصریکسره ازصف ملت مسلمان افغان طردګردند ، ان شاءالله .

دبابري جومات پرځاي ددرمسال جوړولو په خلاف سکان هم احتجاجي مظاهري کوي

دجنوبي هندوستان" پنځوانې ښاراجودهیاکي دبابري جومات پرځاي ددرمسال جوړولوپه خلاف احتجاجي مظاهروکي سکان هم ورشامل شول ، سکانو اعلان وکړ چي دوي به د پنجشنبي په ورځ دمتعصبو هندوانو ددي ظالمانه کاروايي په خلاف په اجودهیاکي احتجاجي مظاهره ، همداراز پرنورو اقلیتونو باندي به دهندوانو دظلم په خلاف احتجاج وکړي ، دخبرونو له مخي دسرجیت سنګ مان اکالي ډال حزب داحتجاجي غونډي جوړولو اعلان کړیدي، هندوان ادعا کوي چي دبابري جومات ځاي اصلا درمسال وچي دبابرپادشاه په وخت کي په جومات بدل شو ،مسلمانان دا دعوا ردوي او وایي چي په اسلام کي په پردي ځمکه باندي جوماتجوړول ناممکن او ناروا دي ، سرجیت سنګ ویلي چي که چیري دجومات د وړانولو اجازه ورکړه شي نو باید دحکومت دبرطرفي غوښتنه وشي.

نجيب - کوئيار- تامسن دري خولي يوه خبره

شاهپور افغان

دملگرو ملتونو عمومي منشي ښاغلي خاوير پريز دوکوئيار د ۱۹۹۱ م د مي دمياشتي په يويشتمه نيټه دافغان ولس د ناورين ، او مصيبت دختمولو دپاره يواپيل اوغوښتنه خپره کړه .

دا دنوموړي لمړني اپيل اولمړني هڅه نه ده بلکي ښاغلي ديکوئيار پخپله يا دخپلوځانگړو استازوپه لاسو دافغانستان په کشاله کښي ځويږي گرتي وهلي او هڅه يې کړي چي ددي جرماشوري څوکه پيدا کړي او په زړه پوري خبره پکښي داده چي دښاغلي کوئيار په آنده هرځل دا هڅه ډيره پخترره اووده دآندي اوفکرسره سم وړاندي شوي ليارهحل تريلي هري لياري ښه بشپړه اوپوره ده.

په دي لړ کښي دي دلويديځو خپروتو اوراديوگانو کوروهم ودان وي چي دده په خوله خپل هر شوي وړانديز او پيشنهادته يې دخپلو تبليغاتي دودونوسره سم دتشهيرښه ښکلي کالي هم وراغوستولي دي او بيا يې دهواري ديوي لياري په نامه په افغان مجاهدينوپاندي دتحلـولکوشهيدانو ، لکونو شلوگوړواودمليونونو دبيکوري اولالهاندي په بيه د يوي داسي سودا دمنلو هڅه کړي چي څوکاله پخوا پخپله ډاکترنجيب دملي روغې جوړي اوملي پخلا توب دتگ لياري په نامه د سياسي جنگ ډگر اودتبليغاتي بازار چټو کوځو ته راويستلي وه ...

دکابل رژيم مشر ډاکترنجيب الله څو کاله د مخې د ملي پخلا ينې تگ لياره پيل کړه . ډاکتر نجيب اوده هغه ملگري ددي تگ لياري په څرگندولو اود خپل سياسي اوتبليغاتي جنگ دپيل اوبريدپه ترڅ کښي شعورايا ناخبره دومره وړاندي ولاړل چي حتي نجيب پکښي په ښابيادخپل ژوند اوله سره هم د تيريدلو سوگندونه وخوړل ، اوويې ويل چي که دافغانستان دننه دوينوتويدل دده په مرگ(دواك په پريښودلو هم نه بلکه حتي په مرگ) ودريدلي شي نو دي چمتو دي چي خپل سرقرباني په ډگر کښيږدي او خپل وروميز پخپله خوښه او رضا د ملت اوتاريخ دقضاوت سره سم د عملي سزاتيري توري ته وړمخکښي کړي ولي ،څومخنگ يې وروسره د سياسي ټکي ټوري داټکي هم ورټل کړو چي زه به حکومت پريږدم اخوچاته ؟

که څوك له ډاكترنجيب نه پوښتنه وکړي چي ته چاډي ته مجبورگړي چه حکومت پريږدي ،چا ستا دواك لمن دټول افغانستان نه دکابل دښار دننه يو څوسيمواوچټوکوځو ته دړوله كړه ؟

او اوس دچا دلاسه د روس دټولو پوځي مرستو سره سره بيا هم د صدارتي ارگ دننه په غزيدلو پښو خوب نشي کولي ؟؟ نوچي دچا د لاسه دي هرڅه ته اړشوي يې اوكوم مجاهد قوت چي ستاد پالونکوداتيدبالوجي اوپوځي تکنالوجي ملا درماته کړي ده هم هغه ته يې پريږده کنه؟ نوريه يې لاچاته پريږدي؟؟

نجيب ددي دپاره چي دده په اصطلاح دواکمني اهل پيدا کړي اود خپلو ټولو تور مخيواوگناهونوسره سره بيا هم حق پلوي او حق بجانبه خبره خپله کړي واتي چي"په افغانستان کښي دي دده د سيوري لاندي يوپراخ بنسټي حکومت جوړشي او د داسي حکومت دجوړولودپاره د افغانانو ديلابيلو خواووترمنځ خبروته اړتياده البته په دي خبرو کښي به پردي لاس وهنه نه کوي ، ولي خدايزده چي د نجيب په شان پردو راوستي لا پردي چاته واتي ؟؟

دلته دي دواړو خبروته ځير کيدل په کاردي :

الف - د پراخ بنسټي حکومت دجوړولونظرته .

ب - د پردودلاس وهنو خبري ته ......

دادواړه خبري په همدي بڼه ښاغلي کوئيار هم کړي او دواړه خبري دنجيب دملي پخلاينې تگ لياره هم کوي . البته دنجيب دملي پخلاينې تگ لياره يواځي هغه حکومت پراخ بنسټي گڼي چي د نجيب په مشري اودوطن دگوند په مخکښي جوړيږي - ولي په دي هکله د ښاغلي کوئيار وړانديز مبهم ،موهوم اوگونگ دي . دي نه د بين الافغاني خبرو وضاحت کوي او "نه داڅرگنده وي چي پراخ بنسټي حکومت به د چا په گډون جوړيږي. او د حکومت دجوړولو د پاره به څوك د چا سره خبرو ته کښيني ؟

پاتي شوه دپرديو دلاس وهنو خبره ،نونجيب پردو راوستي اوکوئيار په خپله پردي دي . نه پوهيږو چي نن سبا پردوراوستي او پردي دواړه ، څه له ځانونه تر خپلو زيات زموږه خپلوان گڼي ؟؟

ډاکتر نجيب دملي پخلاينې تردي اعلانه وروسته مسلمان شوي هم دي اوسره ددي چي نه په رب ، نه د رب په کلام اونه دهغه د کلام دحکم سره سم په نازل شوي نظام ايمان لري بيا هم په ټوله بي شرمي دکمونيزم دسياسي ريا اوفريب دفلسفي په حکم په خپلو ويناووکښي د رب د سپيڅلي کلام آيتونه لولي ،او دچا ځميرك كار ټولپسټي په گوتو د جوړشوي کارټون سره سم دهغه يهودي ډم دکان ته هم ورننوتي چي په کښي ورله زيره گورباچف ږدي اود روحانيت تورپټکي يې جارج بوش ورتړي.

چه دلاوراست دزديکه به کف چراغ دارد .

ډاکتر نجيب داخبره هيره کړي ده چي ملت يې ډيرښه پيژني اودملت حافظه په دي لړ کښي دده تر دروغجني حافظي ډيره پياوړي ده . دي په دي هم نه پوهيږي چه انفرادي حافظي دهرچا خپلي خپلي وي ولي ټولنيزي حافظي تاريخ نوميږي اوتاريخونه تل خبري خوندي ساتي .

نجيب دمجاهدينو بريالي بريد پاکستان ته منسوبوي اوپه دي توگه هغه ټول وياړونه اوافتخارات نوروته بخښل غواړي چي د مجاهد اولس شاه ځلمو دخپلو سرونو په بيه گټلي دي.

ډاکتر نجيب داکار شعورا اوپه لوي لاس كوي ، ځكه چي دي لا اوس هم شعورا دخپل كمونيستي فطرت اوعادت ته مجبور دي.

كمونيستان هرويار داكتوبرانقلاب ته بخښي او د نړي دهر ولس دشاه ځلمو قرباني دكمونيزم د سرو ديوالو په پښو كښي ږدي دا ځكه خونجيب دخپل اولس دمومنو شاه ځلمو وياړونه هم نوروته بخښل غواړي او فكر كوي چي هرڅوك به دده په شان نوروته دخپلوافتخاراتو دبخښلوعادت لري.

« فكرهركس به قدرهمت اوست»

« ډاكتر نجيب په دي هم نه پوهيږي اودعوه كوي چي دي او دده نظام دافغانستان ديووالي اووحدت يواځيني ساتندويه نظام دي ولي ټول پوهيږو چي په تيروټردي ديارلسو كالو كي دسروكمونيستانو واكمني دافغانستان دملي وحدت اويو والي بيړي دبيلا بيلوملېتونو د تش په نامه پالني په نوم دنفاق او بيلتانه په هغو تيرگووهلي ده . چي اوس يې يواځي داسلام د ټولنيز عدل ، اخوت اوافغاني وروروّلي ميخونه بند پيوند راټينگولي شي.

دااعتراف به ډاكترنجيب هم كړي واي ،ولي هغه له به دداسي اعتراف اخلاقي جرأت څوك وركړي ؟؟ او ددي اخلاقي جرأت د نشتوالي له امله داکتر نجيب خپل شرميدلي اوتكيدلي نظام د افغانستان د يووالي ،سالميت اوملي حاكميت يواځيني ضامن او بيدونظام گڼي ... له بلي خوا ښاغلي كوئيار هم په خپلووړانديزونو كښي دروغ او يو موټي افغانستان خبري كوي اويو داسي نظام ورله غواړي چي دي او دده پالونكي يې د افغانستان دملي وحدت ديواځيني ضامن نظام په توگه نړيوالو ته وروپيژندلي شي . دابيله خبره ده چي د عمومي انتخاباتو اوله اولسي انتخاب پرته دښاغلي كوئيار په خوښه دلويو جرگو په اساس راغلي انتسابي نظام به نه ملي وي او نه اسلامي ،داسي نظام به په ټول اولس يو وار بيا يو كفري حكومت راوتپي او هغه ټول جمهوري ارمانونه، قيمتونه او ارزښتونه به د فردي دكتاتوري په منگولو راښكركړي چي اسلامي جمهوريت يې پاللي او غوړولي شي .

دښاغلي كوئيار دوړانديزونو اوداكتر نجيب د ملي پخلاينې له داسي پرتلني اومقايسي وروسته ويلي شوچي دښاغلي كوئيار تش په نامه خواخوږي وړانديزونه اودنجيب ملي پخلاينه اودښاغلي تامسن څرگندوني درواړه هغه يوه خبره ده چي دريو خولو په دريو بيلابيلوختونو كښي په بيلا بيلو ژبو كړيده ،يا په بله ژبه دملي پخلاينې زړه نيمگړي اودښاغلي كوئيار داپيل نوي بگټي اودتامسن نوي سروكي تړدي كټ مټ يوه سندره ده ،خوسندرغاړي اوسازونه يې سره توپير لري ......

په دي لړ كښي دباداولو بل ټكي دادي چي ښاغلي كوئيار دا چي دخليج له جگړي وروسته دملگروملتونو د سرمنشي نه زيات د يوه جهاني قدرت دسياسي دفتر د سردفترواويا دانگريزي په اصطلاح دلويو قوتونو دستينوگرافر STENO GRAPHER په نوم يې پراخ شهرت موندلي اوخپل لوړ سياسي اوتاريخي مقام يې دكونجكو ټول ته راكوز كړي ... په خپل وړانديز كښي دنجيب دملي پخلاينې دتگ لياري په شان د افغانستان د اسلامي كرداردژوندي ساتلو پلوي كوي خودهغه نظام په هكله هيڅ هم نه وايي چي په اسلامي كردار سمبال شوي ،اواولس دداسي يو نظام دپاره چي څپلي يې په ژړونو كښي وي ،اودعظمت څوكي يې اسمان ته رسي ، دولس كاله دخپلوزړونو وينې وركړي......

داسلامي نظام په هكله له څه ويلونه دښاغلي كوئيار"دغنگ اوځټ دليل دادي چي دي او دده پالونكي لويديځوال دشوروي په شان ، په افغانستان كښي ، داسلامي كردار تشي خبري كولي شي ، ولي د اسلام په ستنواواساساتو ولاړ نظام د خپلو صهيوني نظامونو دساه ستونوته دژندبو پريوتي غوټي گڼي ...

داسلامي جمهوري نظام ته همدا ويره د اسلام ټول دښمنان يو موټي كوي اوډ پيغمبراكرم (ص) دا درته وينا عملا جوتيږي چي " الكفرملت واحده " اويا دواحد كفر ملت دتيرو په هغه څويږه بدليږي چي څرك رڼايي سترگي سيځي اوديري وري ديوگي هم نه شي زغملي.

چيرته يو گوټ كښي ډيوه شوه بله حومره شوه گوره دتيارووله-دښاغلي كوئيار د وړاندي كړي اپيل يو بل ټكي داهم دي چي راتلونكي افغانستان به نه يواځي اسلامي كريكټر لري اويه ملي حاكميت به سمبال وي بلكي ناپيلي بڼه به يې هم نه بدليږي .

داهم ښه خبره ده ولي كه موږ له ښاغلي كوئيار نه داپوښتنه وكړو چي اشنا! آخرته څوك يې چي د افغانستان ولس ته وايي چي ستاسو هيواد به اورمرو ناپيلي پاتي كيږي ؟

داځو د افغان مجاهد ولس خپله خوښه اود را روان وخت دتقاضوسره سمه خپله پريكره ده ، هغه چي د خپلو ملي گټو دخوندي ساتني په غرض څه ډول لياره غوره كړي ... ؟؟

په دي لړ كښي دغووروخبره دا هم ده چي له ساړه جنگ نه په سره شوي نړي كښي اوسني ناپيلتوب څومره الاديت اوارزښت لري ؟ او كه دلي وخت دپاره دروس او امريكي ترمنځ د ساړه جنگ نه (وتلي) دننني نړي پروني ناپيلتوب ته وگورو نوښه سوكه څرگنديدلي شي چي حتي هغه وخت هم په دي غورځنگ كښي د نړي دلويو واكونو څومره لاس پوځي ورننوتي وو او د هند اوكيوبا په شان هيوادونو دناپيلتوب غورځنگ څومره ناپيلي او غير جانبداره وساته .

دوام لري

اسلام اوسياسي نظام

په ليرپښي نجم الدين ستوري

داسلامي نظام اونوروضعي نظامونو ترمنځ لوي اوښكاره توپيردادي چي په اسلامي نظام كي داموروو اصلاح داسلامي شريعت په چوكاټ اودائره كي ترسره كيږي اودمسلمان رابطه په ټولو كړو وړوكي خاص دالله سره وي .

خويه وضعي نظامونوكي داموروتنظم دعقل اويادهواوهوس په تقاضا ترسره كيږي اودخداي درضا اوبندگي سره رابطه نه لري اونه وروسره داتصوروي نودامير مسئوليتونه دټولني په مقابل كي په لاندي ډول وړاندي كوو .

١ - د اميردمهمو وظائفو څخه دصحابه وكرامو په اصولو اوطريقه ددين حفاظت او دكړو باطلو اوفاسدو عقايدو مخنيوي دي .

٢ - داحكاموتنفيذ :

دټولني ترمنځ دشرعي احكامو تنفيذ اوتعميل دي لكه دټولني دافرادو ترمنځ دشخړو ديپښيدو په صورت كي داسلامي عدل اوانصاف له مخي فيصله اوداسلامي قوانينو پوره پوره تطبيق دي ترڅو دمظلوم ملگرتيا اودظالم مخنيوي وشي .

٣ - دامنيت ساتنه :

دامنيت ساتل چي دټولني اواجتماع افرادپه اطمينان سره ورځني امورات سرته ورسوي اودهغوي سر،مال ، عزت اوناموس په هرځاي اوهرحالت كي په امن وي .

٤ - دحدودوپه ځاي كول :

دالله دمحارمودحدوداحترام ساتل اودالله دبندگانودحقوقو ساتل اودظالم دظلم مخنيوي .

٥ - داسلامي دولت دسرحداتوساتنه :

ددولت رئيس بايد دتدبير په رڼاكي دداسي قوت مظاهره وكړي چي دظالم دظلم مخنيوي اودهرتجاوزيه مقابله كي مقاومت وكړي شي ترڅوداسلام دښمنان دمسلمانانو دسرومال، پت اوعزت سپكاوي ونكړي، اسلامي دولت به نه يواځي دافرادو ژونداوآبرو دهرتيري څخه ساتي بلكي اسلامي دولت مسئوليت لري چي دافرادو عزت اوكرامت هم خوندي پاتي شي .

٦- جهاد كول :

ددي څخه مطلب داسلامي دعوت لپاره داعيان مقررول اوداسلام دښمنانوته داسلام دقبلولو لپاره دعوت وركول دي ترڅودالله دلوي نعمت (اسلام) څخه برخمن اومسلمانان شي اويادذمي په حيث دمسلمانانو دشرائطو لاندي واوسيږي چه دالله دين په ټوله نړي كي غالب اوحاكم شي .

٧ - دبيت المال جوړول :

داسلامي شريعت دقانون له مخي په پوره جرئت سره يې دكمي اوزيادت څخه دبيت المال جوړول اوتقويه كول لكه زكوة ، عشر، صدقات، غنيمتونه اونور .

٨ - دمالي حقوقو وركول :

دمالي حقوقو صحيح سنجش اودبيت المال څخه مستحقو كسانو اومامورينوته پخپل وخت مناسب معاش وركول .

٩ - كاراهل كارته سپارل :

داجتماع اوټولني دكارونو دصحيح پرمختگ اوددوي دمالونو اوآبرو دساتلو لپاره امين اوخيرخواه افراد مقررول ترڅوددوي مالونه محفوظ اوكارونه ئي په ښه طريقه سرته ورسيږي .

پدي رابطه پيغمبر (ص) فرمايي : دحديث شريف ترجمه : چاچي دمسلمانانو دكوم كارمشرتوب په غاړه واخست اوبيائي داسي څوك په كاروټاكه چي له هغه نه ئي زيات صالح نفرمبنداي شونو په ريښتيا چي دخداي اوپيغمبرسره خيانت وكړ .

١٠ - داموروومراقبت اونظارت :

ددي لپاره چي دټولني امورات په ښه طريقه سرته ورسيږي اوددوي دحقوقو حفاظت وشي اميربايد پخپله داموروونظارت وكړي اودامت دحال احوال نه ځان خبركړي اويواري دافرادو په توظيف اوتقرراكتفاء ونكړي ځكه كيداي شي دامين څخه په مال كي خيانت اودخيرخواه بي خبري پيښه شي لكه چي الله خپل گران پيغمبر داودعليه السلام ته پدي رابطه داسي هدايت فرمائي : ترجمه " اي داوده موږتاو په ځمكه كي خپل خليفه مقرركړي په خلكوكي په حقه سره حكم وچلوه اودخپلو خواهشاتوپيروي مه كوه چي دالله دلاري نه به دي بي لاري كړي "

الله تعالي پخپل حكيم كلام كي يوازي دخلافت دوظيفي په سپارلو اكتفا،نده كړي بلكه دخلكو ترمنځ ئي دحق اوعدالت تعميلول فرض اوددي خلاف څه كول ئي دالله دلاري نه اوښتل بللي دي .

بلكه داموروونظارت اودملت دحال نه ځان خبرول داموروو داصلاح لپاره مهم جزء دي لكه چي پيغمبر (ص) فرمائي : ترجمه :" هريودستاسي راعي اوشپونكي دي اوهريو دستاسي دخپل رعيت (دحال څخه) مسئول "اويوښتيدونكي ياست "

امام نووي رحمة الله ددي حديث په شرحه كي داسي ليكلي دي چي :

راعي هغه ساتونكي اوامين ته ويل كيږي چي دلاس لاندي ټولو شيانودساتني تعهدني كړي وي ، هرڅوك چي دده ترامرلاندي وي نوهغوي ته ددينې اودنيوي گټي رسولو اوعدل كولو مسئوليت لري ،دگټي رسولونه مقصددبي وزلو اومحتاجو ضروريات پوره كول دي ترڅودالله دغوره قانون ترسيوري لاندي ورته دبندگي لارآسانه شي .

محمدبن يزدادچي دمامون وزيردي خپل اميرته داسي مشوره وركوي .

شعر : من كان حارس دنيائه كمن ان لاينام وكل الناس نوام

څوك چي ددنيا اومال څوكيداروي پدي خوشحاله وي چي اوده نشي سره ددي چه ټول خلك دشپي اوده اودي ويښ ناست وي .

دوام لري

اتل مجاهد ضامن شاه شهيدشو

شهيدضامن شاه دميارحيم شاه زوي دكامي دورگلي دمياگانو دكلي اوسيدونكي چي په ۱۳٤۸ كال كي زيږيدلي و په ۱۳٦ كال يې پيښورته هجرت وكړ . كله چي ځلمي شو ، نوسمدستي په وسله وال جهادپيې لاس پوري كړ او دماموزصاحب ميرزامحمد قوماندان اوسرمعلم صاحب محمداكبرخان سرگروپ ترقوماندي لاندي يې اته كاله پرله پسي جهادوكړ . اودگړو، گوښتي اودكامي په عملياتو كي يې فعاله برخه اخستي وه . اووروسته بيا دقوماندان عبدالروف سره دڅمرخيلو خواته جهادته ولاړه چي بالاخره د ۱۳۷ كال دميزان دمياشتي په ۲۲ نيټه ددوشنبي په ورځ

دمازديگر په پنځويجودڅمرخيلوپه قرقه كي دملحدرژيم سره په مخامخ جگړه كي دشهادت لوړمقام ته ورسيد . اناالله واناليه راجعون

دنوم بدلول

وروړگلاب خان دفضل رحيم زوي دلغمان ولايت دعلينگار ولسوالي دكچوردكلي اوسيدونكي دمانسري د" چترپال په كمپ كي دقاسم العلوم په دارالعلوم كي زده كړه كوي خپل نوم په عبدالله " عادل " بدل كړي .

له دوستانونه ئي هيله كيږي چي نوموړي وروړ په نوي نامه وپيژني .

###

برادر ميرنظر ولد شهيدگل مسكونه قريه شنگراب ولسوالي رستاق ولايت تخار فارغ التحصيل صنف ششم دارالايتام المحمد السليمان الرشيدي اسم خودرا به احسان الله " محسن " تبديل نموده است .

ازدوستان واقارب شان خواهشمنديم تامنبعد برادر رابه اسم جديدش بشناسند

وروړ دواجان دشيرين دل خان ځوي دوردگوولايت دايرداد دعلاقداري ددورانبو كلي اوسيدونكي فعلا دعبدالله بن عباس دمدرسي شاگردخپل نوم په محمدبشيربدل كړي هيله ده چي نوموړي وروړمحمدبشيرپه نامه وپيژني .

محترم وروړ محمدكريم فاضل ، ستاسي مضمون راورسيد، حرنگه چي لوموړي برخه يې ډيره زړه وه نودخپرولو حخه يې تيرشو دمضمون دروستي برخه چي په روانوحالاتوپوري ربط لري دادي خپورو، ستاسي دقلمي همكاري په هيله . (اداره)

دادپاتوروومجاهدينوديوتيم مليون دقربانيو اوشهيدانو دپاكووينو بركت ؤ چي كمونستي رژيمونوته يې خاتمه وركړه . موږ په سترگو وينواوگوروچي دكمونيزم وفاداروشاگردانوئن پخپله دلپاټ مجسمه په مسكوكي په ځمكه راغورځوي اولعنت پري وايي اوماشومان پري ساعتري كوي داداالله (ج) نصرت دي چي ډيوه واړه اوكوچني ملت سره يې وكړ .

خواوس يوتعداد ضعيف النفس انسانان اويه اصطلاح ناخوداگاه مسلمانان وايي چي په جنگ نه بلكي دتفاهم اوحل سياسي له لاري دافغانستان دمسئلي حل ممكن دي . زه وايم چي كه دحل سياسي اويااهرقدرت ته دځان په تسليمولو حل راتلاي نواوس به ياسرعرفات دآزادفلسطين رئيس اوفلسطين به آزادۇ چي تقريبا څلورلسيزي وړياندي تيري شوي . يوازي ديريالیتوب رمزپه جهادكي نغښتي اودجهاداستمرارپه مسئله حل كوي .

####

محترم وروړ محمديونس سلامونه مو ومنه !

ليك دي راورسيد، كيداي شي چي په تعليم اوتربيه خصوصا دمدرسواوليسو په برخه كي څه نيمگرتياوي موجو دي وي، اوداټولي دشرايطو له امله رامينځ ته شوي ، همداشرايط ددي باعث شول چي دنوروټولو جهادي تنظيمونو اوپه نامه عبوري حكومت ښوونځي اومدرسي وتړل شي، ولي حزب اسلامي دپخواپه شان دوام وركوي، لاداچي دنوروتنظيمونو دشاگردانو يوج هم پري زيات شو. زموږ هيله داده چي په مشكلاتو كي استقامت ښكاردي تركومه چي داستادانويه كمبوداودسويي په كمزورتيا پوري اړه لري، موږ هم دتعليم اوتربيي له مسئولينو څخه هيله لروچي ددي مشكل په حل كي زياروباسي ، پريږدي چي دشاگردانو كال عبث تيرشي . همداراز داسي هم كيداي شي چي دخپل مشكل په هكله دخپلي اداري له لاري له مسئولينو سره په تماس كي شي اودتفاهم په اساس ستونزي حل كړي .

والسلام

(اداره)

#####

گران وروړعبدالمنان صادق دالهجرت والجهاد دمدرسي شاگرد !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

له شهادت سره موله ميني نه شكريه .

دايه زموږ بريالیتوب وي ، چي دمجاهدملت دغوښتنو ترجماني وكړي شو . ته چي كوم تكليف لري، دايوټولنيزغم دي، اوځانله نه يي .

ستاسو شاعرانه استعداد دوبرشاباسي مستحق دي، خوبايد خپله ادبي مطالعه پرمخ بوځي ، ځكه كه ته څه ليكي، اوتخپل اوتفكروسره گډنه وي، نوبيا به دي شاعري له ولسي فورم اوحيثت نه لوړه نه شي . ستاسو دنوروشعرونو اوليكونو درالبرلوپه هيله .

####

دمعهدالشرعي عالي محصل !

ع، د ، ر، ته سلامونه .

دافغانستان دستونزي په باب كه ميانه رواوملي گرايان كوم سازش كوي، نودادي شهادت خوورته تل داخبار اواخطاريه دول دخپل مسلمان ملت كركه ور رسولي، دداسي خلكو ترمنځ دافغانستان تاريخ پروت اودغازي اكبر اوشاه شجاع دواړونومونه پكي خوندي دي . راځه چي داكار دمومن ولس محاكمي ته پريږدو . اوستادپوره ليك دنشريه برخه كي درته همدومره ويلي شو، چي شهادت ځان له اسلوب معياراوكتونكي ولري، اودهغوي له لزوم دبهرته هيڅ شي دنشروونه شي بلل كيدلي . والسلام

#####

محترم وروړ احسان الله دزيدبن ارقم (رض) دمدرسي استاذ !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ددي لپاره چي داموضوع يواځي موږته نه بلكي دگردو مجاهدينوپه سطحه مطرح شي، نودادي ليك موږ له لاسوهنې پرته نشرته وسپاره . والسلام

(اداره)

ښاغليو دشهادت دوروځپاڼې مسئولينو !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

څرنگه چي داسلام دښمنان دټل دپاره كوښښ كوي چي داسلامي مقدساتو اواسلامي شخصيتونو پوري مسخري اوملندي وكړي، نويه زياتروځايونوكي ددوي هدف دملايانو اوديني شخصيتونو سپكاوي كول وي ، دلته غوارم چي تاسوته يوه موضوع دريه يادكرم چي تاسوكوم وروړ تري يو مضمون برابركړي چي زموږ مسلمان لوستونكي تري مستفيدشي اودغه موضوع نوروجهادي نشرياتوته ورپه گوته كړي .

زموږ يوانصار عرب وروړچي په اسلامي تاريخ كي (M.A) يعني تخصص لري داسي وويل چي په افغانستان كي زموږ مسلمان وروڼه په ناآگاهانه توگه دځيني اسلامي نومونو اوشخصيتونو (خداي وجهه مكره) توهين كوي، اوهغه داچي ناتي ته خليفه وائي اودناتي دوكان ته سلماني وائي، حال داچي خليفه دمسلمانانو مشراو جانشين ته ويل كيږه اوسلمان چي يوجليل القدرصحابي دي چي دغه كسب هغه ته منسوب كوي، موږ فكركووچي دغه نومونه دكافرانو مبشرينواومستشرقينو لخوا وارداتي نومونه دي، دخليفه مقام خوټول مسلمانان پيژني اوهم دحضرت سلمان فارسي (رض)، نودي دغه كسان ديوداسي خلكوسره تشبيه كوي چي په ټولنه كي دعام سړي لپاره گپ ندي ، ډيره گستاخي ده كه دفردوس سينمانوم بدليږي نوداهم دهغي څخه كمه نده .

